مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۷/۱۴

# مناجات

دا موږ په کوم عذاب اخته شولو شړینه خدایه!
نو د محشر ورځ نوره توره وي که سپینه خدایه!؟

سړی بـه کـومې سیـارې ته تړینه کـډه وکـړي!؟
دلته نه قدر شته نه رحم شـته نه مینه خدایه!

چـا تـه وقـار او عظمت او درنښـت پاتې نشـو
ای بـا وقـاره بـا عظـمتـه او سنګینـه خـدایـه!

نه مې ارزښت نه مې هویت او نه حُریت پاتې شو
درنـه پـناه غـواړم ددې دور لـه شـینـه خـدایـه!

منم چې هـره غـلامي خـپل خـپل ترخـه خیروي
خو د جـاهـل تـابعیت تریخ دی لـه اپینه خدایه!

یا اسرافیل ته امر وکـړه چـې شـپیلی پو کړي
یـا بـدرنـګی له دنیا و شـړه حسـینـه خـدایـه!

باور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ